مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

زلمی کرزی

۲۰۱۹/۰۵/۰۷

# د غور سوریان

د غور په ورشوګانو او د افغانستان په زړه کي د سوریانو یو کهول میشت وو، چی دغه کهول آریایی شمیرل کیږي. د روایت او د ژبو له څیړنو څخه څرګندیږی چي د ویدا د پکهت له خلکو سره یي نژدی اړیکی درلودې. دغه ټبر تر اوسه د هرات د لمر لویدیځ شمال د بادغیس د (زورآباد) په شاوخوا کي د(زوری ـــسوری) په نامه سته، تر اسلام د مخه دغه کهول د تخارستان، غور، هرات او خراسان په غرو کي حکمراني کوله او د (غر شاه) په لقب یا دیدل.

د سوري نوم د ویدی (سوریا) څخه اخیستل سوي دي چي په اوستا کي (هور) او بیا اور سوي دي، دغه زور او یا سوریا تر اسلام وروسته پیدا سوی دی او په دغه نوم ښار، قبیله او ځیني کسان یاد سوي دي او یوه مشهوره او لویه قبیله له پښتنو څخه په دغه نوم یادیږي او د دوی په نامه د(زور آباد) مشهور ښار ودانیږي، ابن اثیر دغه ښار( زور ابذ) د سرخس له سیمو څخه ګڼي.

دغه کهول لرغوني افسانوي شخصیت (ضحاک) ته منسوب دی، دغه نوم فردوسی ضحاک بللی دی. طبری، البیرونی او ابن سینا یي (ازدهاق) یادوي، په اوستا کي (د هاک – اژی دها) یاد سوی دی چي په دری کي (اژدها)

او په پښتو کي (اژدهار) دی. د دغه ضحاک په نامه تر اوسه هم د بامیان د ضحاک ښار مشهور دی. او د پښتو په سرچینو کي د تاریخ سوری په حواله (سهاک) دی چي تر اوسه هم موږ په پښتنو قبیلو کي سهاک لرو او سهاک نوم هم ږدو او مفغن شکل یي د سهاک او سهاکزی د افغاني قبیلو نومونه دي، او د لرغوني افغانستان په نومونو کي پخوانی ریښه لري او د سهاکا تاریخي قوم چي سکستان او د عربو سجستان هم د دوی په نامه یادیږي او تر اوسه هم سهاکزیان په سیستان او هلمند کي ژوند کوي. نو دا ویلای سو چي د سوریانو د لوی نیکه نوم (سهاک)و، او د دغه نوم معرب شکل ضحاک سو، ځکه چي دغو صحرایی آریایانو به تل پر ښاری خلکو بریدونه کول نو په آریایی روایاتو کي د ضحاک افسانه پاته سوه، ضحاک نه عربی و او نه د سهاکا قبایل سامی وه بلکي دوی سوچه آریایی قبایل وه مګر په دښتو کی د کوچیانو په دود میشت وه.

په اسلامي پیرکي د خراسان په تاریخ کي سوریان، سوري قبیلې او کورني نومونه راوړل سوي دي د دې کورنۍ لومړی تن د عربی تاریخ پوهانو په اند (ماهوی سوری) نومید، د مرو حکمران و، د ساسانی اخرنی پاچا (یزدګرد) چي د عربو له لښکر څخه مرو ته تښتیدلی و د ماهوی سوری پواسطه په (۳۱هجری کال) ووژل سو او وروسته تر هغه په کوفه کي د حضرت علی (رض) لخوا د مروپه پاچاهي ومنل سو او د حضرت علی څخه یي د بزګرانو په نامه یو لیک تر لاسه کړ څو مالیه وده ته ورکړې. ماهوی هم په دغه وخت کي مسلمان سوی دی ، نومړی د دغو قبیلو او ټبر واکمن ؤ، وروسته تر هغه چي ساساني سیال یي له مینځه یووړد واک او تسلط لمن یي هري خواته پراخه کړه، بلخ او هرات یي ونیول او بیایی د لښکر مشر بخارا ته ولیږی، ماهوی د عربی تاریخ پوهانو په اند د حضرت علی تر وخته ژوندی و. د غور سوریانو وکړای سول څو پیړۍ د عربو د یرغلونو په مقابل کي خپله خپلواکي وساتي.

د غور د پلازغولي تاریخ پوه قاضی منهاج سراج د غور د پیاوړو او نامتو کسانو یادونه کوي نوموړی تاریخ پوه د ناصری تاریخ په حواله (سور او سام) د افسانوي ضحاک دوه وروڼه بللي دي چي سور مشر واکمن و او سام کشر سپه سالار و د دوی زوزات (اولاده) د اسلام د مخه د غور په مندیش کي پاچاهي درلوده. د دې کورنۍ بل تن چي (بسطام بن مهشاد) نومید د تخارستان، بامیان او شغنان پر غرونویي حکم چلاوه، منهاج سراج دغه کورنۍ د سلطان علاوالدین حسین جهانسوز څخه پیل او د غیاث الدین محمد بسام (۵۸۰هجری) په نوم پای ته رسوي.

د اسلامی عصر په لومړیو وختو کي د دي کورنۍ بل حکمران ملک شنسب د خرنک زوی و، شنسب د اسلام په ابتدا کي ژوندی و چي وروسته د ده اولاده د شنسبانیانو په نامه یادیږي، د مهناج سراج په قول شنسب هم د حضرت علی (رض) د خلافت په دوره کي د کوفي په مقام کي حاضر سوی او اسلام یي راوړی دی. او د خلیفه لخوا د غور د امارت فرمان ورکړسو. د دې کورنۍ بل واکمن د ملک شنسب زوی امیر پولاد دی چي د غور شاوخوا غرونه یي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

په واک کي وه او د خپلو پلرونو نوم يي را ژوندی کړ. کوم وخت چي ابو مسلم د بنی اميه اميران له خراسانه وشړل او د بنی عباس په پلوي ټينګ ودريد نو امير پولاد د غور لښکر د ابو مسلم کومک ته وليږی او د آل عباس د پاچاهی لپاره يي ډير کارونه وکړل. پولاد د ابو مسلم ملګری و په غور کي د ده مرکز منديش وه.چي زيات وخت دی هلته واکمن و.سوري کورنی د مغلو تر سور ساتو او تاړاکه (۶۰۰هجری) پوري پر غور، خراسان، باميان، تخارستان، سيستان، زابل او کابل پاچهی کوله. هندوستان هم دوی فتح کړ او د ګنګا تر ګڅو پوری يي واکداري ورسيده، د دوی په وختو کي پښتانه د غور او سليمان له غرو څخه د ترنک، ارغنداو، هلمند، کابل او هريرود ناووته خپاره سول. د سوريانو په وخت کي د غزنويانو د دوري د دري ژبي ادبيات د سوری واکمنانو په واسطه تر ډهلی پوري خپاره کړل د اسلام دين يي په ټول افغانستان او د هند په زياته برخه کي خپورکړ او د عمران بيلګه يي د هرات جامع جومات او د غور د جام څلی (منار) او د ډهلی قطب منار دی.
د امير پولاد وروسته د ده زوی امير کروړ نوميد. ډيټی خزاني مؤلف محمد بن داود چي په ۱۱۴۲هجری کال کي کښلي ده، د ده شعرونه او ژوند د لرغوني پښتانه له کتاب څخه چي شيخ کټه غوريا خيل په ۷۵۰ هجری کال کښلی دی، را اخيستل سوي دي په دا سی حال کي چي محمد بن علی بستی خپل کتاب په ۶۵۰ هجری کال په بالشتان (والشتان د غور سويل اوس د کندهار شمال په تيري پوری اړه لري)کښلی دي. کروړ د (جهان پهلوان) په نامه چي د فردوسی د پهلوانانو له القابو څخه دی، شهرت درلود.
شيخ کټه غورياخيل پخپل کتاب لرغوني پښتانه کي د تاريخ سوری په حواله کاږي:
اميرکروړ د امير پولاد زوی وپه۱۳۹هجری کال د غور په منديش کي امير سو او هغه ته يي جهان پهلوان وايه، وايی چي د برکوشک، تمران، خيسار بالشتان مانی او د غور کوټونه او کلاګاني يي ونيولی امير کروړ ډير غښتلی پهلوان و، ده يوازی د سلو جنګاورو سره جګړه کوله نو ځکه يی (کروړ) وايه چي معنا يي ده کلک او سخت.
وايی چي امير کروړ د دوبی موسوم په زميناور کي تيراوه په هغه ځای کي يي مانی درلوده چي کټ متې د منديش د مانی پشان وه چي په هغه کي يي ښکار او ساعت تيری کوله. په سوری تاريخ کي کښل سوي دي چي دغه واکمنان په پيړيو پيړيو په بست، بالشتان او غور کي ميشت وه د سور اولاده ده او دسهاک له پښته څخه ګڼل کيږي.
پټه خزانه دلرغوني پښتانه په حواله د سوری تاريخ څخه دا خبره هم ښکاره کوي چي په هغه وخت کي د سوريانو ژبه پښتو وه او اوس هم ځيني سوري خلک په بادغيس کي پښتو وايي، د دوي پخوانيو نيکونو هم پښتو ويله چي امير کروړ تر اوسه هم په پښتنو کي په افسانوي ډول مشهور دی، د ساری په ډول وايي: د کروړ له وختو دی.
د اسلامي پير په لومړيو څلور سوو کالو کي غور او سوري قبايل د پښتو د شعر او ادب زانګو وه او پښتو ژبه د سوريانو په کهول کي پالل سوي او په هغو وختو کي پښتو ژبي پاخه شعرونه درلودل.
د پښتو خورا زوړ او پخواني ادبي آثار چي تر اوسه زموږ لاس ته راغلی دی د امير کروړ سوری يو حماسی شعر دی چي پټي خزاني د سوری تاريخ په حواله خوندي کړی دی، محمد بن علی بستی په سوری تاريخ کي داسي کښلي دي. چي د عباسی دعوت په جنګوکي امير کروړ ډيری سوبي وکړی نو يي دا بيتونه و ويل چي (وياړنه) يي بولي. دغه بيتونه شيخ کټه د تاريخ سوری څخه راوړی دي چي دلته ځو بيتونه د بيلګي په ډول راوړم.

زه يم زمری، پر دی نړی له ما اتل نسته
په هندو سند پر تخار او پر کابل نسته
بل په زابل نسته، له ما اتل نسته
غشی دمن مي ځي بريښنا په مير ځمنوباندی
په ژوبله، يونم، يرغالم پر تښتيدونوباندی
په ماتيدونوباندی، له ما اتل نسته

د پښتو دا زوړ شعر چي د هجري دوهمي پيړی له لومړي برخي څخه را پاته دی، له ظاهری پلوه د اداٌ، لغاتو او کلماتو له مخي د اوسنی ژبي له محاوری سره توپير لري، داسی لغت او پښتو سوچه کلمات پکښي راغلي دي چي اوس متروک دي اويه عمومی محاوره او ادب کي نه استعماليږي، خو د ژبني پلټني څخه دا پايله اخيستلای سو، چي پښتو ژبه په غور کي د نورو ژبو له ګډيدو څخه سوچه و او دا سوچه توب يي تر ۴۰۰هجری پوری هم ساتلی دي او هر څومره چي په اسلامي دوره کي پيری پر تيريری هغومره ژبه له سوچه توبه ليري کيږي اونور عناصر په ګډيږی.د کلماتوګرامری کيف او اشتقاقی ډول دا راښئ چي پښتو ژبي پخوا قوي ريښه درلوده او د ايتما لوژی له پلوه ډيري ځانګړ تيا وي لري. په دغه شعر کي نه د عربي او نه د دری او نه د پهلوی ژبي اثر سته، نو ويلای سو چي د دغه شعر د ويلو پر وخت پښتو په غور کي خپل ادبي پوخوالي ته رسيدلي وه.
د معنا له پلوه هم دا لومړني شعر ډير لرغوني دي، له حماسي شعرونو څخه چي د نړی د ادب يوه غوره برخه ده، دا يوه غوره او برجسته نخبنه ګڼله کيږي. د شاعر لوړ حماسي مقام او د ده د توري غلبه او برى ښه انځور کوي، له دغي وياړني څخه د امير کروړ ملی مينه او د خپل ټبر د پالني احساسات ښه ځرګنديږي او دغه د شعر يوه زړه ټوټه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

ده چي سړی د هغي زماني د پښتنو اخلاقي او روحي کيفيت ښه ځيني معلوملای سي او د شاعر د جذباتو د چاپيريال هينداره ده چي د پخواني ژوند راز، راز اړخونه پکښي ښکاري.

**شيخ کته د تاريخ سوری په لاس وند دا هم کاږي:**

اميرکروړ عادل، ضابط او د ښي وينا خاوند و کله کله يي شعرونه ويل چي د ده دغه شعر د ده د زړورتوب، د شاندارو کار نامو، ميراني او ستري واکمنی استازيتوب کوي.دغه شعر د پښتو ادب لومړنی شاهکار او د لومړيتوب لوړ مقام لري او دغور د شاهي ټبر د ژبي په هکله هم يو تاريخي دستاويز دی او هم د پښتنو د تاريخ لپاره ډير اهميت لري. کروړ د فتوحاتو او د هغه د شجاعانه کار نامو ښخه د خپل ؤلس خبرول و.ځکه نو د هغه خپله او د غور د پراخي سيمي د عام ؤلس ژبه پښتو وه. امير کروړپه ۱۵۴هجری د پوشنج (د هرات لويديځ اوسني غوريان) په جګړو کي ووژل سو. د امير کروړ وروسته د ده زوی امير ناصر د هيواد پر ګدئ کښيناست،
همدا رنګه د محمد غوری په پلازغولی کي د پښتو ژبي شاعر(ښکارندوی) د فيروز کوه د کوتوال احمد زوی دی، په هند کی يي د محمد د فتوحاتو په ستاينه کي يوه ډيره ښه او خوندوره قصيده ويلی او په پټه خزانه کي را نقل سوي ده چي دا هم د پښتو ژبي له خورا مهمو ادبي او تاريخي اثارو ښخه ګڼل کيږي
د سوريانو د عصر يو ډير سترګور او پوه مورخ، قاضی منهاج سراج جوزجانی دی، دغه سړی د سوريانو په پلازغولی کي لوی سوی دی، او د خراسان د عالمانو او تاريخ پوهانو ښخه شميرل کيږي د غوريانو له بابته د ده معلومات عيني او خورا ثقه او درانه دي د غوريانو سره محشور او معروف و او مشهور کتاب يي طبقات ناصری نوميږي.
**دی کاږي:**
د دي کورنی بل واکمن (بنجي، بن نهاران، شنسبي) دی او شيش بن بهرام د هارون الرشيد پلازغولی ته ورغلل، بنجي د قسيم اميرالمومنين په لقب د غور د واکمن په توګه و پيژندل سو د غور ورستني واکمنان د همدغه بنجي له پښته ښخه ګڼل کيږي، دی زياتوي:بنجي ښکلي او د ښو اخلاقو خاوند و،او هم دغور واکمنان او د سوريانو د پاچهي مشهور سپاسالاران له همدغه شيش بن بهرام له تو کومه ښخه دي.
د صفاريانو په دوره کي د غور حکومت په منديش کي امير سوری بن محمد ته ورسيد کله چي صفاری يعقوب ليث نيمروز او اراکوزيا (کندهار) ونيول، په دغه وخت کي په لرو بر والشتان کي د غوريانو قبيلي مسلماني سوي نه وي،په غرونو کي يي ژوند کاوه تر دی وروسته د غور واکمنان په همدغه کورنی کي پاينت وکړ. په غور کي تر اوسه تيمنيان او زوريان په پښتو ژبه خبري کوي او په راوروسته وختو کي نامتو او هوښيار شير شاۀ سوری په هندوستان کي له همدغه افغاني ټبر ښخه راوتلی او را پاڅيدلی دی.
په درنښت:

**اخځونه:**


افغانستان بعد از اسلام – حبيبی
جغرافيه تاريخی افغانستان – غبار
تاريخ مختصر افغانستان – حبيبی
پټه خزانه -- محمد هوتک
تاريخ ادبيات پښتو – حبيبی
پښتانه د تاريخ په رڼا کي – ظفر کاکا خيل
د علامه حبيبی شل مقالي


پای



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزی ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ